د ښوونځيو او ديني مدرسو د فارغانو لپاره د ۱۴۰۵ کال کانکور ازموينې د نوملیکنې اړينې لارښوونې

۱. په ټولټزو ازموينو کې د ګډون لپاره، ټول غوښتونکي بايد د ازموينو ملي اداري د نوملیکنې فورمه ډکه او د نوملیکنې مراجعو ته په ټاکلې وخت وسپاري. هيڅ غوښتونکی د نوملیکنې د فورمې د ډکولو او پر وخت تسلیمۍ پرته، **په ازموينه کې د ګډون حق نه لري.**

۲. د نوملیکنې فورمه وړيا ده او هر غوښتونکی کولای شي په آنلاين ډول يې د ازموينې ملي اداري له ويب‌پاڼې او يا د خپل ښوونځي/مدرسې مديريت څخه تر لاسه کړي.

۳. د ازموينې **حق الشمول (۴۰۰) افغانۍ دی؛** چې د ښوونځي يا مدرسې مديريت ته او يا د ازموينې ملي اداري ته به، د نوملیکنې له ډک شوي فورمې سره، سپارل کېږي.

۴. هر ګډون کوونکی **په کال کې يوه فورمه ډکولای شي.** دا فورمه بايد خپلې ليسې/مدرسې ته سپاري، تر څو ازموينه يې خپل ولايت کې واخيستل شي. **که د خپل ولايت له نوملیکنې څخه پاتې شو** نو خپله فورمه به په کابل کې د ازموينو ملي اداري ته او يا هم په زونونو کې د دې اداري ساحوي دفتر ته وسپاري، خو ازموينه به يې بيا د کابل ولايت په وروستي دور کې واخيستل شي.

۵. **که د يو زده کوونکي لپاره له يوې څخه ډيرې فورمې په يوه کال کې د ازموينو ملي اداري ته ورسېږي، نو د همدې کال له ازموينې محروم او يو چانس يې له منځه ځي.**

۶. که يو زده کوونکي په خپل ولايت کې ليسې/مدرسې ته فورمه تسليم کړی وي؛ خو د ولايت په ازموينې کې حاضر نشي، **نوموړي ته د دويمې فورمې د ډکولو اړتيا نشته،** يوازې دې د ازموينې ملي اداري له خوا په اعلان شوي وخت، اداري ته مراجعه وکړي او د خپلې لومړنۍ فورمې غوښتنه دې وکړي، تر څو د کابل په ورستي دور ازموينه کې تنظيم شي. **(يوازې به د ازموينې حق الشمول بياځلې تحويلوي)**

۷. فورمه په کمپيوټري توګه د ډکولو وړتيا لري، ښه داده **چې فورمه په کمپيوټري توګه** ډکه شي.

۸. په فورمه کې غوښتل شوي معلومات ټول اړين دي.

۹. ولايت/حوزه: هغه ولايت چې غواړئ ستاسو ازموينه پکې واخيستل شي.

۱۰. عکس: په فورمه باندې لګول شوی عکس بايد له **خولې، ماسک، عينکو او نورو داسې شيانو څخه پرته** اخيستل شوي وي، چې مخ پټ کړي؛ عکس بايد له ٦ مياشتو څخه زوړ نه وي او سپين بګروند ولري.

۱۱. نوم، د پلارنوم، تخلص، د نيکه نوم او د زېږېدو کال د اصلي تذکرې سره سم ورسول شي او د پېژندګلوي معلومات په جلا تورو هم په واضح توګه وليکل/تايپ شي.

۱۲. د پېژندپاڼې/تذکرې ډول بايد په نښه شي او الکترونيکي تذکرې ته ترجيح ورکول کېږي.

رهنمود نام‌نویسی(ثبت‌نام) امتحان کانکور سال ۱۴۰۵ برای فارغان مکاتب و مدارس دینی

۱. تمام اشتراک کننده‌گان امتحانات جمعي، جهت اشتراک در امتحان، مکلف اند؛ تا فورم نام‌نویسی اداره ملی امتحانات را تکمیل نموده و به وقت معینه به مراجع ثبت‌نام امتحان تسلیم دهند. هیچ داوطلب امتحان بدون تکمیل و تسلیمی به موقع فورم‌ثبت نام امتحان، **حق شمولیت در امتحان را ندارد.**

۲. **فورم نام‌نویسی(ثبت‌نام) رایگان بوده** و در صفحات اجتماعی و ویب آدرس‌های ادارۀ ملی امتحانات به صورت آنلاین و یا در مدیریت لیسه/مدرسه شما قابل دریافت است.

۳. **حق‌الشمول امتحان مبلغ (۴۰۰) افغانی بوده** که به ادارۀ مکتب یا مدرسۀ مربوطه، با فورم خانه‌پُری و تکمیل شده یکجا، تحویل داده می‌شود.

۴. هر داوطلب **در یک سال یک فورم را خانه‌پُری کرده** و به لیسه یا مدرسۀ خویش سپرده میتواند؛ تا امتحان در ولایت شان اخذ گردد. اگر **از نام‌نویسی ولایت خویش بازمانده باشد،** فورم نام‌نویسی خویش را در کابل به ادارۀ ملی امتحانات ویا در زون ها به نماینده گی این اداره بسپارد؛ تا در دور اخیر امتحان کانکور که در کابل برگزار می‌شود، تنظیم گردد.

۵. **اگر از یک داوطلب چندین فورم ثبت‌نام امتحان کانکور در یک سال به اداره برسد، از امتحان همان سال محروم و یک چانس خویش را نیز از دست می‌دهد.**

۶. اگر داوطلب فورم نام‌نویسی را در ولایت، به لیسه/مدرسه خویش تسلیم نموده باشد ولی به امتحان ولایت حاضر شده نتواند، **باز هم لازم نیست فورم دومی را خانه‌پُری** کند، بلکه در زمان معین که از سوی ادارۀ ملی امتحانات اعلان می‌شود، به این اداره مراجعه نموده و خواهان تنظیم فورمه قبلي خویش به دور اخیر امتحان کانکور ولایت کابل گردد. (در این صورت صرف **حق‌الشمول امتحان را باید مجدداً پرداخت کند**).

۷. در صورت امکان بهتر است **فورم نام‌نویسی کمپیوتری خانه‌پُری** گردد.

۸. درج و نوشتن تمامی معلومات خواسته شده در فورم ضروری است.

۹. ولایت/ حوزه: آن ولایتی که می‌خواهید، در آن امتحان را سپری نمایید.

۱۰. عکس: عکس باید **بدون کلاه، عینک، ماسک و دیگر اشیای که چهره را پنهان** نماید، در فورم نصب گردد و باید بیشتر از ٦ ماه از اخذ آن نگذشته و دارای بگروند سفید باشد.

۱۱. نام، نام پدر، نام پدرکلان و سال تولد مطابق تذکره رسانیده شود و معلومات شهرت با حروف الفبا نیز در جدول یا چوکات مربوطه به طور واضح درج شود.

۱۲. نوعیت تذکره باید انتخاب شود و به تذکرۀ الکترونیکی ارجحیت داده می‌شود.

۱۳. د فراغت ځای/مرجع بايد په ډاګه شي؛ يعني دا چې تاسو د پوهنې وزارت اړوند لېسې څخه يا که له ديني مدرسې او دارالعلوم څخه فارغ شوي ياست؛ د لېسې فارغان به د عمومي کانکور پارچه حل کوي او د ديني مدرسو فارغان به د ديني مدرسو د نصاب اړوند پارچه حل کوي.

۱۴. د ازموينې ژبه: د افغانستان دننه فارغان د ازموينې د پوښتنو لپاره يوازې (دري يا پښتو) ژبې غوره کولای شي؛ خو له افغانستان څخه بهر فارغان کولای شي په خپله خوښه له (پښتو، دري، عربي او انګليسي) ژبو څخه يوه ژبه د ازموينې د پوښتنو لپاره غوره کړي. د يادونې وړ ده چې د (انګليسي او عربي) ژبې غوره‌کوونکو ګډونوالو ازمويني به د کابل په وروستي دور ازموينه کې اخيستل کېږي، که فورمه يې په هر ولايت کې تسليم کړې وي.

۱۵. د اصلي استوګنځي د ټولو برخو (ولايت، ولسوالۍ او کلي) معلومات بايد د پېژندپاڼې سره سم وليکل شي.

۱۶. د پېژندپاڼې معلومات: که مو پېژندپاڼه الکترونيکي وي؛ شمېره يې په بشپړه توګه په لومړۍ خانه کې بايد وليکل شي. که تذکره مو کاغذي وي، نو (د صکوکو ګڼه، ټوک، پاڼه، ثبت ګڼه) په اړونده خانه کې ټول ورسول شي.

۱۷. ولايت (فراغت): د هغه ولايت نوم بايد وليکل شي چې ستاسو د فراغت لېسه/مدرسه پکې ده.

۱۸. په لېست کې مسلسله شمېره: دا برخه د فورمو د ټولولو او لېست کولو مسؤول له خوا ډکېږي او په لېست کې د فورمې مسلسله شمېره دې په فورمه باندې هم وليکل شي.

۱۹. د فورمې تر بشپړولو وروسته (د ګډونکوونکي لاسليک) اړين دی، چې په فورمه کې د رسول شويو معلوماتو د سموالي څرګندونه کوي. بې لاسليکه فورمه د منلو وړ نه ده.

۲۰. د نوملیکنې فورمې په شاته سپينه برخه باندې دې د ګډونکوونکي تذکره چې نوملیکنه وربانديې شوې ده، کاپي شي. (جلا کاپي نه منل کېږي).

۲۱. د نوملیکنې فورمه بايد تر پشپړولو وروسته په فورمه باندې د ورکړل شوي نېټې څخه مخکې د خپلې لېسې/ مدرسې مديريت او يا د نوملیکنې اړوندې مرجع ته وسپارل شي. (له ورکړل شوي نېټې څخه وروسته فورمه د منلو وړ نه ده او په ازموينه کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي)

۲۲. که په فورمه باندې درج شوي معلومات ناسم او يا غلط رسول شوي وي، ګډونکوونکی به د اسنادو د جعل په تور عدلي او قضايي مراجعو ته معرفي کېږي.

۲۳. هغه ګډونکوونکي چې د تېرو کلونو په ازموينه کې د هېواد امارتي پوهنتونونو يا لوړو زده کړو مؤسسو ته بريالي ورپېژندل شوي وي؛ په راتلونکي ازموينه کې د ګډول لپاره بايد د لومړي سمستر د ازموينو څخه مخکې منفکي اخستې وي. (برحاله محصل او د محرومۍ له امله منفک محصل، په ازموينه کې ګډون نشي کولای)

۱۳. محل فراغت داوطلب مشخص گردد؛ که از مکتب یا مدرسۀ دینی/دارالعلوم مربوط وزارت معارف فارغ شده است. فارغان مکاتب پارچۀ(سوالات) کانکور عمومی و فارغان مدارس دینی پارچه(سوالات) کانکور مدارس دینی را حل می‌نمایند.

۱۴. زبان امتحان: فارغان مکاتب و مدارس داخل کشور زبان امتحان خویش را تنها یکی از زبان های رسمی دری یا پشتو و فارغان مکاتب خارج مرز، زبان امتحان خویش را دری، پشتو، عربی و یا انگلیسی انتخاب کرده می‌توانند. (قابل یادآوری است فارغانی‌که زبان امتحان خویش را عربی یا انگلیسی انتخاب نموده اند، فورم نام‌نویسی را که در هر ولایت تسلیم نموده باشند امتحان‌شان در دور اخیر کابل تنظیم می‌گردد).

۱۵. تمام معلومات سکونت اصلی (ولایت، ولسوالی و قریه) باید مطابق تذکره نوشته شود.

۱۶. معلومات تذکره: اگرتذکرۀ الکترونیکی(برقی) باشد، تمام کود(اعداد) اش در خانۀ مربوط به نمبرتذکره الکترونیکی نوشته شود و اگر تذکره کاغذی باشد، تمامی معلومات درج شدۀ تذکرۀ کاغذی در فورم درج شود.

۱۷. ولایت(فراغت): نام همان ولایتی نوشته می‌شود که شما از یکی از لیسه‌ها/مدرسه های آن فارغ شده اید.

۱۸. شمارۀ مسلسل در لیست: این بخش توسط مسؤول(کسی که فورمه‌ها را جمع‌آوری و لیست می‌کند) پُر می‌شود، شمارۀ مسلسل فورم باید در قسمت (په لېست کې مسلسله شمېره) فورم نوشته شود.

۱۹. بعد از خانه‌پُری فورم(امضای داوطلب) حتمی است که معلومات درج شدۀ فورم را تأیید می‌کند. بدون (امضای داوطلب) فورم قابل قبول نیست.

۲۰. در قسمت سفید در عقب فورم نام‌نویسی تذکرۀ داوطلب که مطابق معلومات ثبت نام باشد، کاپی گردد. (کاپی تذکره به صورت جداگانه قابل قبول نیست و باید در عقب فورم نام‌نویسی کاپی گردد).

۲۱. بعد از خانه‌پُری و تأییدی مکمل فورم نام‌نویسی(ثبت نام) قبل از تاریخ معین مندرج در فورم، به مدیریت لیسه/مدرسه و یا مرجع ثبت نام کننده سپرده شود. (سپردن فورم نام‌نویسی(ثبت نام) بعد از تاریخ درج شده در فورم قابل قبول نبوده و در امتحان تنظیم نمی‌گردد.)

۲۲. اگر معلومات نوشته شده در فورم نام‌نویسی (ثبت‌نام) درست نباشد، داوطلب به دلیل جعل و تزویر اسناد به ارگان‌های عدلی و قضایی کشور معرفی می‌شود.

۲۳. آنعده داوطلبان که در امتحان سال‌های قبل به یکی از پوهنتون ها یا مؤسسات تحصلات عالی امارتی کامیاب معرفی شده باشند، جهت اشتراک در امتحان سال بعدی؛ باید قبل از امتحانات سمستر اول منفکی خود را اخذ نموده باشد. (محصل برحال ویا منفک به علت محرومي شامل امتحان کانکور نمی‌شود)

نوی انځور عکس جدید ۳x۴ سپین بګروند بگروند سفید

دا فورم ورېا او آنلاین موندل کېږي!
این فورم رایگان و آنلاین دریافت میشود!

New Form

افغانستان اسلامی امارت
د ازموینو ملی اداره

د ازمويني/امتحان حق الشمول (400) افغانی
ولایت/حوزه ( )

د ۱۴۰۵ کال (عمومي/ديني زده کړو) کانکور ازمويني د نوملیکنې فورمه/فورم ثبت نام امتحان کانکور (عمومي/علوم ديني) سال ۱۴۰۵

شهرت (په ملي ژبو/به زبان های ملی)	هر نوم په جلا تورو ولیکئ/هر نام را به حروف جداگانه بنویسید!
نوم/اسم	
د پلار نوم/ولد	
تخلص	
د نیکه نوم/ولدیت	
د زیږیدو کال/سال تولد	
جنسیت	( ) نارینه/ذکور - ( ) ښځینه/اناث
Email ID:	

د ازموینې ژبه/زبان امتحان		محل - فراغت - ځای
عربي ( )	( ) پښتو	( ) لیسه/ښوونځی
( ) English	( ) دری	( ) مدرسه دینی/دارالعلوم

د ګډونکوونکي د خپلوانو معلومات/معلومات اقارب اشتراک کننده

نوم/اسم	د خپلوی ډول/نوع قرابت	دنده/ وظیفه	د دندې ځای/محل وظیفه	د اړیکې شمیره

اوسنی استوګنځی/سکونت فعلی

ولایت	ولسوالی/ولسوالی	ناحیه-کلی	پته/آدرس	د اړیکې شمیره

اصلي استوګنځی/ سکونت اصلی

ولایت	ولسوالی/ولسوالی	ناحیه-کلی	د کور پته/آدرس خانه

د (برېښنایي) پېژندپانې معلومات/معلومات تذکره (الکترونیکی)

ډول/نوعیت: ( ) الکترونیکي - ( ) کاغذي

د الکترونیکی تذکرې نمبر/د کاغذي تذکرې صکوک نمبر	د ثبت ګڼه/شماره ثبت	پاڼه/صفحه	ټوک/جلد

د ثانوي زده کړې دورې معلومات/ معلومات دوره تعلیمات ثانوي

ولایت (فراغت)	لیسه/مکتب/مدرسه/دارالعلوم	سال/کال (فراغت)	په لېست کې مسلسله شمېره

د ګډون کوونکي ژمنه: پورتني معلومات مې په سم اوبشپړ ډول، پرته له تېروتنې، قلم تورولو، جعل او تزویر لیکلي دي. په فورم کې د غلط معلوماتو لیکلو مسؤولیت زما پر خپله غاړه دی. د ګډون کوونکي لاسلیک ( )

تعهد کاندید: تصدیق مینمایم که معلومات مندرج این فورم صحیح، مکمل و دقیق بوده به قلم خودم بدون کدام اشتباه، قلم خوردگی، جعل و تزویر درج نموده ام. در صورت عدم صحت معلومات، مسؤولیت به دوش خودم میباشد.

د فورمې ډکولو لارښود	رهنمای تکمیل نمودن فورم
o فورم باید قلم تورولو پرته ډکه شوې وي.	o فورمه بدون قلم خورده گی تکمیل گردد.
o د پېژندنې معلومات مو د تذکرې له مخې پشپړ کړئ.	o داوطلب شهرت را مطابق تذکره تابعیت تکمیل نماید.
o عکس مو باید نوی، بې‌عینکو او رنګه وي، او شا (بګروند) يې سپین وي.	o عکس باید، جدید، بدون عینک، رنگه و بگروند سفید باشد.
o پر فورمه لګول شوی عکس باید د ښوونځي تاییدي ولري.	o بالای عکس نصب شده فورم مهر تائید مکتب حتمی میباشد.
o ولایت/حوزه، هغه ولایت دی چې ازمونه پکې اخیستل کېږي.	o ولایت/حوزه امتحان، ولایتی میباشد که امتحان در آن اخذ میگردد.
o اصلي استوګنځی مو د تذکرې سره سم ولیکل شي.	o سکونت اصلی مطابق تذکره تابعیت درج گردد.
o خپله د تابعیت تذکره مو د همدې فورمې پر شا کاپي کړئ.	o تذکره تابعیت خود را در عقب این فورم کاپی نماید.

د پوهنې وزارت
د معارف ریاست

د لېسې یا مدرسې مدیریت/مدیریت لیسه یا مدرسه
(د فراغت تائید او مهر)

(د فراغت تائید او مهر)

*په فورم کې غوښتل شوي ټول معلومات اړین دي! / تمام معلومات خواسته شده در فورم الزامی میباشد!

توجه: این فورم را بعد از خانه پری و طی مراحل قانونی قبل از تاریخ (۳۰ /جدی/۱۴۰۴) به مدیریت لیسه فراغت خود تسلیم نمایید.

پاملرنه: دا فورم د ډکولو او طی مراحل وروسته د (۱۴۰۴/ مرغومي /۳۰ مه) نیټې څخه مخکې خپل د فراغت لېسې مدیریت ته وسپارئ.